EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM


Bundesamt für Migration und Flüchtlinge

د المان جمهوریت

# د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مدیریت د مقررې ( ASYLUM & MIGRATION MANAGEMENT REGULATION) په اړه پر څه باید وپوهېږئ

الف ډول

د نړیوال خوندیتوب غوښتونکي




PASHTO

# منځپانګې


تاسې ولې دا بروشور تر لاسه کوئ؟ 3

نړیوال خوندیتوب څه ده او څوک یې تر لاسه کولای شي؟ 3

د پناه غوښتنې او د کډوالۍ د مدیریت مقرره (Asylum and Migration Management Regulation) څه ده؟ 4

بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟ 5

ستاسې حقونه تر هغه وخته پورې چې دا پرېکړه وشي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد به ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک وڅېړي 6

تر هغه وخته پورې چې دا پرېکړه وشي چې کوم د اروپايي ټولنې+ هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي، تاسې باید چېرې پاتې شئ؟ 8

په دغه پروسه کې له تاسې د څه شي تمه کېږي؟ 8

کوم اسناد باید تاسې ورښکاره کړئ؟ 9

تاسې ولې مکلف یاست چې باید د خپلو ګوتو نښې او انځور ورکړئ؟ 10

که چېرې تاسې خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ، نو عواقب یې څه دي؟ 11

توقیف څه معنی؟ 12

چارواکي څرنګه پرېکړه کوي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي؟ 13

کېدای شي له تاسې سره مصاحبه وشي تر څو د دې خبرې په پوهېدو کې مرسته وشي چې کوم د اروپايي ټولنې+ هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي 16

ایا تر اوسه پورې کومه مصاحبه هم شوې ده؟ 18

کوم شواهد وړاندې کولای شي تر څو ثابته کړي چې تاسې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې کورنۍ لرئ؟ 19

دا به څومره وخت ونیسي؟ 20

څه به وشي که تاسې دمخه د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې د نړیوال خوندیتوب لپاره غوښتنه کړې وي؟ 21

کله چې پرېکړه وشي نو څه پېښیږي؟ 22

که تاسې د انتقال له پرېکړې سره موافق نه یاست، څه پېښیږي؟ 23

د استیناف د پروسې په اړه پر څه پوهېدو ته اړتیا لرئ 24

کوم شخصي معلومات به را ټول شي؟ 25

د شخصي معلوماتو په اړه ستاسې حقونه څه دي؟ 26

## تاسې ولې دا بروشور تر لاسه کوئ؟

تاسې د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو څخه په يوه کې د نړيوال خونديتوب (چې د پناه غوښتنې په نوم هم پېژندل کېږي) غوښتنه کړې وه. دا په دې معنی چې تاسې اوس د نړيوال خونديتوب يو غوښتونکی ياست. دا ښوونې ده چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ستاسې د غوښتنليک د څېړلو مسوول وي. تاسې اوس هغه پرېکړې ته په تمه ياست.

دا مهمه ده تر څو پوه شئ چې د اروپايي ټولنې+ هېوادونه څرنګه له يوه بل سره همکاري کوي، څکه دا همکاري کولای شي پر دې اغېز ولري چې کوم هېواد به ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنليک وڅېړي.

تاسې به په دې بروشور کې ټول اړين معلومات ومومئ.

## نړيوال خونديتوب څه ده، او څوک يې ترلاسه کولای شي؟

تاسې کېدای شي نړيوال خونديتوب ته اړتيا ولرئ که چېرې بيرته خپل هېواد ته نشئ تللی څکه چې تاسې له څورونې څخه ويره لرئ يا د جدي زيان له ريښتيني خطر سره مخ ياست. د بېلګې په توګه، دا په دې مانا، چې ستاسې ژوند يا ازادي به په خطر کې وي او ستاسې د هېواد چارواکي به تاسې د هغه خطر څخه ونه ساتي چې تاسې ورسره مخ ياست.



په يوه بېل بروشور کې به د نړيوال خونديتوب په اړه لا زيات معلومات تر لاسه کړئ.

**تاسې اوس د آلمان جمعوريت کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او

4 نور هېوادونه: ايسلينډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

## د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مدیریت مقرره (ASYLUM AND MIGRATION MANAGEMENT REGULATION) څه ده؟

د اروپايي ټولنې+ هېوادونو پر یوه ګډ قانون توافق کړی دی چې د پناه غوښتنې او کډوالۍ د مدیریت مقرره ( Asylum and Migration Management Regulation (AMMR)) نومېږي. دا قانون مرسته کوي تر څو پرېکړه وشي چې کوم هېواد د نړیوال خوندیتوب د غوښتنلیک د ارزونې مسؤلیت لري. دا قانون د اروپايي ټولنې+ هېوادونو ته دا اجازه هم ورکوي چې که چېرې یو هېواد په یو وخت کې ډېرې غوښتنې ترلاسه کړي، نو له یو بل سره مرسته وکړي.




تاسې ته تضمین درکړل شوی چې د اروپايي ټولنې+ هېوادونه به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي، خو تاسې نه شئ کولای وټاکئ چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد به دا مسوولیت پر غاړه ولري. هغه هېواد چې ستاسې غوښتنلیک څېړي د هغه په اړه به د AMMR د قانون له مخې پرېکړه ونیول شي.



که په بروشور کې داسې څه وي چې تاسې نه پرې پوهېږئ، نو کولای شئ د کډوالۍ له کوم افسر نه پوښتنه وکړئ.

په دغه وخت کې، د اروپايي ټولنې+ هېوادونه یوازې دا پرېکړه کوي چې کوم یو یې ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو مسوول دی.

که چېرې پرېکړه ونیول شي چې ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو لپاره د اروپايي ټولنې+ بل هېواد مسوول دی، نو تاسې به هغه هېواد ته ور ولیږدول شئ.

## بیا ځای پر ځای کېدل څه شی دی؟

یو له هغو لارو څخه چې اروپايي هېوادونه کولای شي یو بل سره مرسته وکړي، دا ده چې مسؤلیت واخلي:



- د هغو غوښتونکو لپاره چې دا مهال په بل اروپايي هېواد کې مېشت دي.
- هغو کسانو لپاره چې تازه يې په بل اروپايي هېواد کې نړیوال خوندیتوب ترلاسه کړی ده.

دا بهير د بيا ځای پر ځای کېدو په نوم يادېږي.

که تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره په پام کې نیول شوي یاست، نو تاسې ته به یو بروشور درکړل شي چې پکې به د دې بهير په اړه نور معلومات شامل وي، له هغې ډلې د هغو اروپايي هېوادونو نومونه چې پکې برخه اخلي، او دا بروشور به د «**د بیا ځای پر ځای کېدو په اړه پر څه باید وپوهېږئ**» تر سرلیک لاندې وي.

**مهم!** که تاسې د بیا ځای پر ځای کېدو لپاره وټاکل شئ، نو تاسې نه شی ټاکلی چې کوم هېواد ته به انتقال شئ.

## ستاسي حقونه تر هغه وخته پوري چي دا پرېکړه وشي چي کوم د اروپايي ټولنې+ هېواد به ستاسې غوښتنليک وڅېړي



که تاسي د نړيوال خونديتوب لپاره لومړی ځل غوښتنه کوئ، نو تاسې د وړيا **حقوقي مشورې** حق لرئ. تاسي کولای شئ دا هر وخت له چارواکو وغواړئ.

حقوقي مشاور به تاسي ته ستاسي حقونه تشريح کړي او د پروسې پر مهال به له تاسي ملاتړ وکړي. که تاسي مخکې له مخکې يو حقوقي مشاور ته پيسې ورکړې وي، نو ممکن چارواکي تاسي ته وړيا حقوقي مشوره درنه کړي. حقوقي مشوره ممکن په ډلەييز ډول وړاندې شي، خو مشاور به ستاسې شخصي معلومات له نورو خلکو سره نه شريکوي.

تاسو کولی شئ د مهاجرت او کډوالو فدرالي دفتر (BAMF) سره په اړيکې نيولو لهه لارې د قانوني سلا مشورې غوښتنه وکړئ. دا کار په لاندې لارو ترسره کېدی شي: ستاسو مسؤل مرکز (ZBV) ته د پستي له لارې، يا service@bamf.bund.de ته د برېښناليک له لارې.



تاسې کولای شئ د نارینه یا ښځینه ژباړن او د قضیې د مسؤل غوښتنه وکړئ، که دا ستاسې لپاره د وضعیت د تشریح کولو اسانتیا رامنځته کوي. چارواکي به ستاسې غوښتنې ته د امکان تر بریده درناوی وکړي.



تاسې دا حق هم لرئ چې د پروسې د پرمختګ په اړه، چې کوم اروپايي ټولنې+ هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي، تازه معلومات وغواړئ. که تاسو غواړئ د اوسنی معلوماتو غوښتنه وکړئ، کولی شئ د خپلې قضیې نمبر په حواله کولو سره د مهاجرت او کډوالو فدرالي دفتر (BAMF) سره اړیکه ونیسئ. دا کار په لاندې لارو ترسره کېدی شي: خپل اړوند ZBV مرکز ته د لیک لیږلو یا service@bamf.bund.de ته د بریښنالیک لیږلو له لارې.




تاسې دا حق لرئ چې د پناه غوښتنې د پروسې په هر پړاو کې د ملګرو ملتونو د کډوالو له اداري (United Nations Refugee Agency, UNHCR) سره اړیکه ونیسئ او خبرې وکړئ.


UNHCR د پناه غوښتونکو او کډوالو د حقونو ساتنه کوي.

د پناه غوښتنې د کړنلارې په اړه د UNHCR د اړیکو جزئیات او معلومات د UNHCR په ویب پاڼې https://help.unhcr.org کې موندل کېدای شي.

**تاسې د تر لاسه کېدونکې ملاتړ او خدمتونو په اړه اضافي معلومات په یوه جلا بروشور کې موندلی شئ.**

## تاسي باید چېرې پاتې شئ تر هغه وخته پورې چې دا پرېکړه وشي چې کوم د اروپايي ټولنې+ هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي؟

- تاسې مکلف یاست چې د اوس لپاره په همدې هېواد کې پاتې شئ.
- که چارواکي پرېکړه وکړي چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد به ستاسې غوښتنلیک وڅېړي، نو چارواکي به ستاسې سفر هماغه هېواد ته تنظیم کړي.



## په دغه پروسیجر کې له تاسې څخه د څه شي تمه کېږي؟

تاسې باید:

- تر هغه وخته پورې چې ستاسې غوښتنلیک ثبتېږي، په همدې هېواد کې پاتې شئ.
- که تاسې مخکې ویزه یا د اقامت اجازه‌لیک ترلاسه کړی وي، نو باید د پناه غوښتنه په هماغه هېواد کې وکړئ چې دا اسناد یې درکړي دي، کله چې هلته ورسېږئ.
- ټولې هغه پېژندپاڼې چارواکو ته وړاندې کړئ چې درسره دي، تر څو خپله پېژندنه ثابته کړئ. که تاسې مخکې پېژندپاڼه لرله خو اوس یې له ځان سره نه لرئ، بیا هم باید چارواکو ته خبر ورکړئ چې دا سند تاسې ته د خپل هېواد حکومت درکړی و.
- که تاسې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته سفر کړی وي، نو چارواکو ته خبر ورکړئ.
- چارواکو ته خبر ورکړئ که تاسې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې بې اجازې پاتې شوي یاست.
- چارواکو ته خبر ورکړئ که تاسې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې نږدې کورنۍ لرئ.

**مهم!** تاسې د قانون له مخې مکلف یاست چې د خپلو ګوتو نښانې ورکړئ او عکس مو واخیستل شي.

## کوم اسناد لرئ چې باید وړاندې یې کړئ؟

چارواکو سره د لاندې مواردو په اړه درلودونکي ټول اسناد شریک کړئ:




- ستاسې پېژند (د زیږون تصدیق لیک، پاسپورت، تذکره)




- د اروپايي ټولنې+ هېوادونو کې د نړدې کورنۍ غړي (رسمي اسناد، داسې ثبوت چې تاسې ورسره په اړیکه کې یاست)





- د اروپايي ټولنې+ هېوادونو کې ستاسې پخوانۍ اوسېدنه (د اقامت جواز، ویزا یا د ښوونځي یا پوهنتون تر لاسه کړې ډیپلوم له مخې).

دا معلومات هر څه ژر برابر کړئ. په دې ډول به ستاسې د غوښتنلیک لپاره د اروپايي ټولنې+ مسوول هېواد په چټکۍ سره په ګوته شي.

## تاسې ولې د خپلو ګوتو د نښو او انځور په ورکولو باندې مکلف یاست؟



د دې هېواد چارواکي به ستا د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات، ستاسې د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره یو ځای، د اروپا یوې ګډې معلوماتي زېرمې ته لېږل کېږي چې Eurodac نومیږي.



دا ډېټابېز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کېږي، چې کولای شي ستاسې معلومات پروسیس او ترلاسه کړي. که تاسې له اجازې پرته د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته لاړ شئ او هلته مو بیا د ګوتو نښې واخیستل شي، نو ستاسې ټول معلومات چې په Eurodac کې ثبت شوي وي، هغه به د هغه هېواد چارواکو ته ښکاره شي.


د Eurodac د ډېټابېز اړوند نور معلومات په یوه بېل بروشور کې وړاندې شوي دي.

## که چېرې تاسې خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ، نو عواقب یې څه دي؟



که تاسې له چارواکو سره همکاري ونه کړئ، دا به ستاسې د غوښتنلیک لپاره منفي پایلې ولري.

که تاسې د خپلو ګوتو نښې ور نه کړئ، نو ښايي چارواکي دا پایله واخلي چې تاسې نور په اروپا کې د پناه غوښتنې لپاره لیوالتیا نه لرئ. هغوی به ستاسې د غوښتنلیک ارزول بند کړي، چې مانا یې دا ده چې تاسې نور په دې هېواد کې د پاتې کېدو حق نه لرئ.




که تاسې له اجازې پرته د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته سفر وکړئ یا د اروپايي ټولنې+ بل هېواد کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وکړئ، نو ډېر احتمال شته چې تاسې بېرته د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد ته واستول شئ چې ستاسې د غوښتنلیک د ارزونې مسوولیت لري.

که تاسې د اروپايي ټولنې+ په داسې هېواد کې اوسئ چې تاسې ته د پاتې کېدو اجازه نه وي درکړل شوې، نو ممکن ستاسې ازادي محدوده شي او تاسې ته لږه مرسته درکړل شي.

## توقیف څه معنی؟

توقیف په دې مانا ده چې تاسې په یوه ځانګړي مرکز کې اچول کیږئ او بیا نشئ کولای په آزاده توګه وګرځئ. چارواکي باید ستاسې د توقیف لپاره یو معتبر دلیل ولري. دوی باید په دې خبره ډاډمن وي چې ستاسې په قضیه کې بل هېڅ یو انتخاب ممکن نه دی. چارواکي به تر پرېکړه نیولو وړاندې ستاسې شخصي وضعیت وارزوي. د توقیف لاملونه کېدای شي، د بېلګې په توګه:



- ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک مهم اړخونه (د مثال په توګه ستاسې پېژندنه) پرته له توقیف څخه نشي تایید کېدای
- تاسې په یو ځانګړي ځای کې د پاتې کېدو مکلفیت ته درناوی نه دی کړی، او دا خطر شته چې تاسې وتښتئ او چارواکي به له تاسې سره په اړیکه کې نه وي
- تاسې یو پرېکړه ترلاسه کړې چې تاسې به د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته ولېږدول شئ چې ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک څېړلو مسؤلیت لري او دا خطر شته چې تاسې تر لېږد دمخه وتښتئ
- تاسې امنیتي خطر پېښوئ.

که تاسې توقیف شئ، نو کولای شئ د دې پرېکړې پر وړاندې استیناف وکړئ او وړیا قانوني مرسته او استازیتوب وغواړئ.

**مهم!** که تاسې له اجازې پرته د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته سفر وکړئ، دا به دا خطر زیات کړي چې راتلونکې کې توقیف شئ.

## چارواکي څنګه پرېکړه کوي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد به ستاسې غوښتنه وڅېړي؟

که د اروپايي ټولنې+ په هېواد کې د نړیوال خوندیتوب لپاره دا ستاسې لومړۍ غوښتنه وي، نو څو دلیلونه شته چې ولې به د اروپايي ټولنې+ یو ځانګړی هېواد ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو مسوولیت پر غاړه ولري.

### 1) کورنۍ اړيکي



لومړی او تر ټولو مهم دلیل دا دی چې یو نږدې د کورنۍ غړي ته لا دمخه نړیوال خوندیتوب ورکړل شوی وي یا دا مهال د اروپايي ټولنې+ بل هېواد کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کوي او تاسې باید له هغوی سره یو ځای شئ مخکې له دې چې ستاسې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وڅېړل شي.

د کورنۍ نږدې غړي دا کسان دي:

ستاسې مېړه یا ښځه

ستاسو نا واده شوی شریک هغه کس چې تاسې ورسره یوه ثابته اړیکه لرئ

ستاسې ماشوم (تر 18 کلنۍ ټيټ او ناواده شوی).

**مهم!** تاسې باید هر څومره ژر چې ممکن وي دا ثابته کړئ چې له هغه کس سره مو اړیکه لرله مخکې له دې چې د اروپايي تولنې+ هېوادونو سیمې ته داخل شئ. په دغه دوره کې کېدای شي ستاسې له اصلي هېواد څخه د سفر وخت هم شامل واوسي.

که تاسې یو د کورنۍ غړی لرئ چې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې ژوند کوي، نو د معلوماتو وړاندې کولو تر ټولو ښه لاره دا ده چې **«د کورنۍ موندنې فورمه»** ډکه کړئ. که تاسې یو د کورنۍ غړی لرئ چې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې ژوند کوي او تاسې لا تر اوسه دا فورمه نه ده ترلاسه کړې، نو له یوه افسر یا خپل قانوني مشاور سره خبرې وکړئ. هغوی کولای شي تاسې سره د فورمې په ډکولو کې مرسته هم وکړي.

تاسې کولای شئ د کورنۍ له غړو سره د یو ځای کېدو د امکان په اړه نور تفصیلي معلومات په هغه برخه کې ومومئ چې عنوان يې دی «**تاسې کوم شواهد وړاندې کولای شئ چې ثابته کړئ د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې کورنۍ لرئ؟**»

## 2) د اروپايي ټولنې+ یوه مشخص هېواد ته د ننوتلو اجازه

د اروپايي ټولنې+ یو هېواد ښايي ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو مسوول وي که چېرې:




- تاسې د اروپايي ټولنې+ د یوه مشخص هېواد ویزا یا د اقامت جواز ولرئ
- تاسې د اروپايي ټولنې+ داسې یوه هېواد ته دننه شوي واوسئ چې پرته له ویزا تاسې ته د ورتلو اجازه درکړل شوې وي یا دا چې ستاسې هېواد له هغه سره یو هوکړه لیک لري.

## 3) تعلیمي سند یا ډیپلوم



- وروسته له دې چې تاسې لږ تر لږه یو تعلیمي کال په حضوري ډول د اروپايي ټولنې+ هېواد په یوه تعلیمي مؤسسه کې زده کړې کړې وي، تاسې ته یو سند یا ډیپلوم درکړل شوی وي.

## 4) د اروپايي ټولنې+ یوه مشخص هېواد ته په ناقانونه توګه داخل شوي یاست

د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ممکن ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل وي که:



- تاسې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد له خارجي پولې څخه له اجازې پرته تېر شوي یاست.



- تاسې د اروپا پر لور د سفر پر مهال د اروپايي ټولنې+ د یوه هېواد د چارواکو له خوا په سمندر کې ژغورل شوي یاست.



- تاسې د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد د هوايي ډګر د ترانزیټ زون کې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې وي.

## 5) له پالونکي او د کورنۍ له تابع غړي سره یو ځای کېږئ

تاسي د کورنۍ د یوه غړي پر پالنه متکي یاست چي د اروپايي ټولنې+ بل هېواد کي دی، یا تاسي د اروپايي ټولنې+ یوه هېواد کي یو د کورنۍ غړی لرئ چي ستاسي پر پالنه متکي دی.\



د کورنۍ دا متکي غړی ممکن لاندي دلایلو له امله مرستي ته اړتیا ولري:

- امیندواري
- نوی زېږېدلی ماشوم
- جدي رواني یا فزیکي ناروغي
- شدید معلولیت
- شدیده رواني صدمه
- زړښت.

په هغو مواردو کي چي متکي اړیکه موجوده وي، تاسي باید دا وښايئ چي تاسي د هغه کس پالنه کولای شئ، یا دا چي ستاسي د کورنۍ غړی ستاسي پالنه کولای شي.

## 6) بشرپاله دلایل

ممکن یو بشرپاله دلیل موجود وي چي له مخې یې د اروپايي ټولنې+ یو ځانګړی هېواد ستاسي غوښتنه وڅېړي. دا دلیلونه ممکن لاندي بنسټونه ولري:

- د کورنۍ ملاحظات
- ټولنیز ملاحظات
- کلتوري ملاحظات

په اروپايي ټولنه+ کي بل هېواد ته غوښتنه کېدای شي چي ستاسي غوښتنه د پورته دلایلو له مخي وڅېړي، خو وروستۍ پرېکړه د هغه هېواد د چارواکو په واک کي ده.

## تاسي ممکن د مصاحبې لپاره وبلل شئ تر څو دا معلومه شي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد به ستاسې غوښتنه وڅېړي.

که دا ستاسې لومړی ځل وي چې د پناه غوښتنه کوئ، نو چارواکي باید یوه حضوري مصاحبه تنظیم کړي.

**مهم!** دا به د پناه غوښتنې مصاحبه نه وي. د دې مصاحبې هدف دا دی چې معلومه کړي د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد باید ستاسې غوښتنه وڅېړي.

**دا مصاحبه څلور اصلي هدفونه لري:**

- د داسې معلوماتو راټولول چې چارواکو سره مرسته وکړي تر څو د اروپايي ټولنې+ مسؤل هېواد وټاکي
- تاسې ته اجازه درکول چې د دې پروسې په اړه پوښتنې وکړئ، چې څنګه د اروپايي ټولنې+ مسؤل هېواد ټاکل کېږي
- تاسې ته اجازه درکول چې د دې بروشور د معلوماتو په اړه پوښتنې وکړئ
- له تاسې پوښتنه کول که داسې کوم دلیل وي چې ولې باید د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته ونه لېږدول شئ یا ولې باید تاسې ته اجازه درکړل شي چې په همدې هېواد کې پاتې شئ

مصاحبه به په هغه ژبه وي چې تاسې پرې ښه پوهېږئ.



هغه معلومات چې تاسې يې ورکوئ، هغه به ستاسې د اصلي هېواد له حکومت يا چارواکو سره نه شريکيږي.

که د مصاحبې پر مهال کوم څه تاسې ته روښانه نه وي، نو کولای شئ پوښتنې وکړئ. دا هم تاسې او هم افسر ته مهمه ده چې هر څه ښه درک کړئ، نو پوښتنې تل د منلو وړ دي.



د مصاحبې غږ به ثبت شي او تاسې ته به د خبرو يو ليکلی لنډيز وښودل شي.

که تاسې د خپلې مصاحبې د ليکلي لنډيز ترلاسه کولو وروسته فکر کوئ چې کوم معلومات ناسم دي او غواړئ چې اصلاح يې کړئ، نو کولای شئ غوښتنه يې وکړئ.

مهرباني وکړئ په مستقيم ډول له هغه کارکوونکي سره خبرې وکړئ چې له تاسو شخصي مرکه يې کړې.

که اړتيا وي، تاسې لا هم کولای شئ له مصاحبې وروسته اضافي اسناد وړاندې کړئ يا هغه دلايل بيان کړئ چې ولې بايد د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته ونه لېږدول شئ.

که تاسې لا هم داسې معلومات يا اسناد لرئ چې تر اوسه مو نه دي سپارلي، نو بايد چارواکو ته يې وسپارئ.

تاسو کولی شئ د مهاجرت او کډوالو فدرالي دفتر سره د پست يا برېښناليک له لارې service@bamf.bund.de اړيکه ونيسئ.

## ایا کومه مصاحبه تر اوسه پورې شوې ده؟

که دا ستاسې لومړی ځل وي چې د پناه غوښتنه کوئ، چارواکي لا هم کولای شي دا پرېکړه وکړي چې یوه شخصي مصاحبه ترسره نه کړي، که:

- د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد چې ستاسې غوښتنه باید وڅېړي، لا له مخکې معلوم وي
- دوی لا له مخکې کافي معلومات ولري چې پرېکړه وکړي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو مسؤل دی
- تاسې مخکې یوه مصاحبه پرته له دې چې چارواکو ته مو دلیل ویلي وي، له لاسه ورکړې وي
- تاسې له چارواکو سره اړیکه نه وي ساتلې.

که مصاحبه تنظیم نه شي، تاسې کولای شئ د هغې غوښتنه وکړئ. که افسران فکر کوي چې دوی لا له مخکې کافي معلومات لري چې ستاسې قضیه اداره کړي، نو دوی کولای شي دا غوښتنه رد کړي، خو باید دا دلیل ورکړي چې ولې مصاحبه نه ترسره کوي.

مهرباني وکړئ د خپلې دوسې شمېرې په حواله کولو سره د مهاجرت او کډوالو فدرالي دفتر (BAMF) سره اړیکه ونیسئ. دا کار په لاندې لارو ترسره کیدی شي: د پستې له لارې د ZBV مرکز ته چې ستاسو د قضیې مسؤل دی یا د service@bamf.bund.de بریښنالیک له لارې.

## د دې لپاره چې ثابته کړئ د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې کورنۍ لرئ، نو څه شواهد وړاندې کولای شئ؟

د خپل د کورنۍ د غړي په اړه د معلوماتو وړاندې کولو تر ټولو ښه لاره دا ده چې **«د کورنۍ موندنې فورمه»** ډکه کړئ.

د دې تر څنګ، هر ډول رسمي حکومتي اسناد وړاندې کړئ چې ستاسې اړيکه ثابته کړي. تاسې کولای شئ نور ډولونه شواهد هم وړاندې کړئ، لکه هغه شواهد چې ښيي تاسې له خپل د کورنۍ غړي سره اړيکه ساتلې ده، د بېلګې په توګه انځورونه، ايميلونه يا پيغامونه.



که تاسې د خپلې اړيکې په اړه هېڅ شواهد ونه لرئ، نو چارواکي ممکن له تاسې وغواړي چې د DNA معاينه وکړئ تر څو دا ثابته شي چې تاسې خپلوان ياست.

تاسې يوازې هغه وخت له خپل د کورنۍ غړي سره يو ځای کېدای شئ که دواړه په ليکلي ډول دا اعلان کړئ چې غواړئ يو ځای شئ. تاسې بايد هڅه وکړئ چې دا سند په انګليسي ژبه وړاندې کړئ که مو وس وي.

دا معلومات بايد هر څومره ژر چې ممکن وي چمتو کړئ.





که تاسې نورې پوښتنې لرئ يا د کورنۍ د يو ځای کېدو د پروسې په اړه مشورې ته اړتيا لرئ، نو کولای شئ له يوه قانوني مشاور څخه مرسته وغواړئ.

که تاسې يو د کورنۍ غړی لرئ چې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې وي، خو له هغه سره مو اړيکه له لاسه ورکړې وي، نو داسې سازمانونه شته چې کولای شي تاسې سره د هغوی په موندلو کې مرسته وکړي.

# دا پروسه به څومره وخت ونیسي؟



د هېوادونو ترمنځ اړیکې معمولاً له **1 نیم میاشت** څخه تر **3 میاشتو** وخت نیسي، خو دا موده ستاسې د قضیې له مخې **اوږده کېدای شي**.



که د اروپايي ټولنې+ بل هېواد دا تایید کړي چې هغوی به ستاسې غوښتنه وڅېړي، نو تاسې به د انتقال غوښتنې د منلو نېټې څخه **تر 6 میاشتو** پورې انتقال شئ.




که دا غوښتنه د دې لپاره شوې وي چې تاسې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې د کورنۍ غړی لرئ، نو انتقال به په **لومړیتوب ترسره شي**



که تاسې اوس **توقیف شوي یاست یا راتلونکې کې توقیف شئ**، نو ستاسې قضیه به په **بېړنۍ ډول وڅېړل شي**. ستاسې انتقال باید د **5 اونیو** په موده کې تنظیم شي. که انتقال په 5 اونیو کې ترسره نه شي، نو تاسې به له توقیفه خوشې شئ. خو بیا هم ستاسې انتقال به د هغه نېټې څخه **تر 6 میاشتو پورې** تنظیم شي چې د اروپايي ټولنې+ هېواد کوم چې ستاسې د غوښتنلیک د څېړلو مسوول دی د غوښتنې منلو پرېکړه کړې وي.

که تاسې د جرم له امله په زندان کې یاست، نو د انتقال وخت محدودیت **تر اعظمي 1 کال پورې زیاتېدای شي**.




❗ **مهم!** که تاسې وتښتئ، پټ شئ یا له چارواکو سره همکاري ونه کړئ، **نو د انتقال وخت محدودیت تر اعظمي 3 کلونو پورې زیاتېدای شي**.

## که تاسې دمخه د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې د نړيوال خونديتوب لپاره غوښتنه کړې وي، بيا؟

تاسې يوازې اجازه لرئ چې د اروپايي ټولنې+ په يوه هېواد کې د نړيوال خونديتوب غوښتنه وکړئ. که تاسې لا له مخکې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې د نړيوال خونديتوب غوښتنه کړې وي، نو تاسې به د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد ته بېرته ولېږدول شئ چې ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی.

که داسې معلومات موجود وي چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی، نو يوه خبرتيا به هغه هېواد ته واستول شي. که د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد تاييد کړي چې هغوی به ستاسې غوښتنه وڅېړي، نو تاسې ته به د **انتقال پرېکړه درکړل شي** چې پکې به ذکر وي چې د اروپايي ټولنې+ کوم هېواد ته به انتقالېږئ.

که دا ستاسې لومړی ځل نه وي چې د نړيوال خونديتوب غوښتنه کوئ، يا دا لا له مخکې پرېکړه شوې وي چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد مسؤل دی، نو چارواکي ممکن له تاسې سره شخصي مصاحبه ونه کړي.

خو تاسې ته به دا فرصت درکړل شي چې تشريح کړئ ولې بايد هغه هېواد ته ونه لېږدول شئ يا ولې بايد تاسې ته اجازه درکړل شي چې په همدې هېواد کې پاتې شئ.

مهرباني وکړئ ورکړل شوی پوښتنليک ډک کړئ او پوښتنو ته په پام سره او صادقانه ځواب ورکړئ.

## کله چې پرېکړه وشي نو څه پېښېږي؟

که تاسې ته د انتقال پرېکړه درکړل شي چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ته ولېږدول شئ، نو ځينې حقوق به مو لغوه شي، د بېلګې په توګه:

- تاسې به **زياتره خدمتونه او د ملاتړ ډولونه ترلاسه نه کړئ**
- تاسې ته **به د کار کولو** يا **کورسونو تعقيبولو اجازه درنکړل شي.**







انتقال بايد د هغه نېټې څخه تر 6 مياشتو پورې ترسره شي چې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد تاييد يا منلې وي چې ستاسې غوښتنه به وڅېړي.

که تاسې توقيف شوي ياست، نو ستاسې قضيه به په بيړني ډول وڅېړل شي. ستاسې انتقال بايد د 5 اونيو په موده کې تنظيم شي. که انتقال په 5 اونيو کې ترسره نه شي، نو تاسې به له توقيفه خوشې شئ.

ستاسې انتقال به لا هم د هغه نېټې څخه تر 6 مياشتو پورې تنظيم شي چې د اروپايي ټولنې+ هېواد تاييد يا منلې وي چې ستاسې غوښتنه به وڅېړي.

که تاسې د جرم له امله په بند کې ياست، نو د انتقال وخت محدوديت تر اعظمي 1 کال پورې زياتېدای شي.

**مهم!** که تاسې وتښتئ، پټ شئ، يا له چارواکو سره همکاري ونه کړئ، نو د **انتقال وخت محدوديت تر اعظمي 3 کلونو پورې زياتېدای شي.**

## که تاسې د انتقال له پرېکړې سره موافق نه یاست، څه پېښیږي؟



که دا پرېکړه وشي چې د اروپايي ټولنې+ بل هېواد ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی، نو تاسې ته به د **انتقال پرېکړه** درکړل شي. دا پرېکړه به تاسې ته دا معلومات درکړي چې کوم هېواد ته به انتقالیږئ.

که چېرې تاسې د لېږد له پرېکړې سره مخالف یاست، نو کولای شئ خپل دلیل محکمې ته وړاندې کړئ. دې ته استیناف وايي. کله چې تاسې پر یوه پرېکړه باندې استیناف وکړئ، نو محکمه یا قضايي پلاوی به وروستۍ پرېکړه ونیسي.

یوازې درې دلیلونه شته چې له مخې یې تاسې کولای شئ د انتقال د پرېکړې پر وړاندې استیناف وکړئ:

- تاسې ادعا کوئ چې د انتقال پرېکړه به ستاسې د بشري حقونو خلاف وي که تاسې د اروپايي ټولنې+ هغه ځانګړې هېواد ته ولېږدول شئ
- داسې نوې معلومات شته چې د انتقال د پرېکړې پر مهال موجود نه وو او کولای یې شوای چې پرېکړه بدله کړي
- تاسې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې د کورنۍ غړی لرئ چې باید له هغوی سره یو ځای شئ.



که تاسو په خپله د قانوني سلاکار د ګومارلو توان نه لرئ، نو ستاسو د تجدینظر په اړه د مرستې لپاره به تاسو ته وړیا حقوقي سلاکار درکړل شي.

له تاسو سره به د شفاهي ژباړن مرسته وشي، چې پر هغه ژبه خبرې کوي چې تاسو ښه پرې پوهیږئ، او دا به د ټولې پروسې پر مهال موجود وي.

## هغه څه چې باید د تجدیدنظر پروسې په اړه پرې پوه شئ

د استیناف د وړاندې کولو موده، ځای او طریقه (تجدیدنظر د منلو وړ غوښتنې: بیړنۍ غوښتنه او اصلي غوښتنه) به په هغه د انتقال پریکړه کې تشریح شي چې تاسې ته درکړل شوې ده.

تاسې باید هغه دلیل یا دلیلونه ورکړئ چې ولې له دې پریکړې سره موافق نه یاست چې تاسې د اروپایي ټولنې+ بل هېواد ته انتقال شئ.

تاسې باید دا دلیل یا دلیلونه هم ورکړئ چې ولې باید تاسې د استیناف د پروسې پر مهال د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد ته ونه لېږدول شئ چې ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی.

محکمه به لومړی په **یوه میاشت** کې دننه پریکړه وکړي چې ایا تاسې کولای شئ د استیناف د پروسې پایلې ته په همدې هېواد کې انتظار وباسئ. که محکمه دا ومني، نو د انتقال پریکړې پر وړاندې د دعوې تعلیقي اغېز به امر کړي.

که محکمه دا پریکړه وکړي چې تاسې نشئ کولای د استیناف پایلې ته په دې هېواد کې انتظار وباسئ، نو تاسې به د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد ته انتقال شئ چې ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی، حتی که ستاسې استیناف روان هم وي.

که محکمه دا پریکړه وکړي چې تاسې ته باید اجازه درکړل شي چې د استیناف د پروسې پر مهال په همدې هېواد کې پاتې شئ، نو محکمه به هڅه وکړي چې د تعلیقي اغېز د پریکړې له نېټې څخه تر یوې میاشتې پورې د دعوې په اړه وروستۍ پریکړه وکړي.

که مو غوښتنلیک ونه منل شي او نور قانوني اعتراضونه بریالي نه شي، تاسو به د اروپایي اتحادیې بل هیواد ته لیږدول کیږئ چې ستاسو د غوښتنلیک د څیړلو مسؤلیت لري. لیږد باید د محکمې د وروستۍ پریکړې نیټې وروسته په شپږو میاشتو کې ترسره شي.

که تاسې اوس توقیف شوي یاست یا راتلونکې کې توقیف شئ، نو ستاسې قضیه به په بیړني ډول وڅېړل شي. ستاسې انتقال باید د پنځو اونیو په موده کې تنظیم شي. که انتقال په پنځو اونیو کې ترسره نه شي، نو توقیف به پای ته ورسیږي. ستاسې انتقال به لا هم د هغه نېټې څخه تر شپږو میاشتو پورې تنظیم شي چې د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد چې ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسؤل دی او د انتقال غوښتنه یې منلې ده یا د بیا منلو خبرتیا یې تایید کړې ده.

**مهم!** تاسې باید له چارواکو سره همکاري وکړئ او د اروپايي ټولنې+ هغه هېواد ته سفر وکړئ چې ستاسې د غوښتنې د ارزونې لپاره مسوول دی.

## کوم شخصي معلومات به راټولېږي؟



د اروپايي ټولنې+ په هغه هېواد کې چې تاسې پکې اوسېږئ، چارواکي به لاندې معلومات راټولوي:

- ستاسې شخصي معلومات او د کورنۍ د هغو غړو معلومات چې له تاسې سره سفر کوي (نوم، تابعيت، د زېږېدو نېټه او ځای). که تاسې مخکې نور نومونه يا معلومات کارولي وي نو دوی به له تاسې پوښتنه وکړي.
- د پېژندپاڼي او د سفر اسنادو په اړه معلومات.
- هر هغه معلومات چې ستاسې پېژندنه تاييدولی شي، لکه ستاسې د ګوتې نښې.
- د کورنۍ د هغو غړو معلومات چې د اروپايي ټولنې+ په بل هېواد کې اوسېږي، لکه شخصي معلومات، وروستۍ ځل چې يوه بل سره مو اړيکه نيولې وه، د هغوی موقعيت او قانوني وضعيت يې.
- د هغو اسنادو په اړه جزئيات چې تاسې لرل او تاسې ته يې اجازه درکړې وي چې د اروپايي ټولنې+ په يوه هېواد کې ژوند وکړئ، که دا ستاسې په قضيه کې پلې کېږي.
- د هغو اسنادو په اړه معلومات چې ښيي تاسې له يو کال څخه زيات د اروپايي ټولنې+ په يوه هېواد کې زده کړې کړې دي.
- هغه معلومات چې ښيي تاسې له کومو هېوادونو تېر شوي ياست تر څو دې هېواد ته راورسېږئ.
- ستاسې شخصي شرايط.
- د هر پخواني نړيوال خونديتوب غوښتنې نېټه او د هغو غوښتنليکونو پايله.

## ستاسو د شخصي معلوماتو په اړه کوم حقونه لرئ؟

تاسو ټولو هغو معلوماتو ته د لاسرسي حق لرئ چې تاسو چارواکو ته سپارلي دي.

که تاسو فکر کوئ چې ستاسو شخصي معلومات ناسم دي یا په غیر قانوني توګه پروسس شوي دي، تاسو کولی شئ د خپلو شخصي معلوماتو ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ، په دې توګه چې د پروسس کولو مسؤلې ادارې سره اړیکه ونیسئ او د ناسمو معلوماتو سمولو یا په غیر قانوني توګه پروسس شوي معلوماتو ړنګولو غوښتنه وکړئ.

تاسو کولی شئ د لاندې معلوماتو په کارولو سره په دې هیواد کې د پروسس کولو مسؤلې ادارې سره اړیکه ونیسئ:

*Bundesamt für Migration und Flüchtlinge*
*Referat LS3*
*Frankenstraße 210, 90461 Nürnberg*

د ټلیفون شمېره: 0-943 911 49+
برېښنالیک: poststelle@bamf.bund.de

سربېره پرې دې، تاسو د اروپايي اتحادیې معلوماتو د ساتنې د عمومي مقرراتو (DSGVO) د 77 مادې او 13 مادې 2 بند د d توري سره سم د معلوماتو د ساتنې څارونکي ادارې ته د شکایت کولو حق هم لرئ:

*Bundesbeauftragter für den Datenschutz und die Informationsfreiheit*
*Husarenstr. 30, 53117 Bonn*

## زما یادښتونه

دا بروشور یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې ادارې (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې بروشور بیا تولید او بدلون یوازې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې بروشور کې د شامل شوو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باورۍ توب لپاره هېڅ ذمه واری یا مسؤلیت نه مني. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې بروشور کې د موندل شویو معلوماتو کارولو ذمه واری نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025